# مقابلې ته مې کتل حېرانېدمه

خان زمان کاکړ



د کیټاګورایزېشن او درجه بندۍ له ټرینډ سره د یو ډول اختلاف باوجود او د فرد او شخصیت تر رول د تاریخي او مادي صورتحال رول ته د زیات ارزښت ورکولو باوجود که زه په یوه درجه بندي باندې تر یوه حده قایل یم نو هغه دا ده چې یو ډله هغه شخصیتونه دي چې کتابونه ولیکي او دویمه ډله هغه شخصیتونه دي چې یو ډګر، یوه لار او یو ډسپلن جوړ کړي چې پر هغه ډګر بیا په تاریخي بهیر کښې د وخت د لوبې د غوښتنو سره سم لوبغاړي راڅرګندېږي، پر هغه جوړه لار خلک تګ ته تیارېږي او په هغه ډسپلن کښې د کتابونو د رامنځته کېدلو روایت قایمېږي او د ژوند بېلابېل تشریحات وړاندې کېږي .د کارل مارکس، سیګمنډ فرایډ، ګاندي جي او باچاخان غوندې شخصیتونو تعلق له دې دویمې ډلې سره دے .په انساني تاریخ کښې ددې ډلې شمېر ډېر زیات نه دے .په دې ډله کښې د شاملو شخصیتونو مطالعه د یوې خورې تاریخي دورې، د یوې پراخې نظریې او اوږد تاریخي عمل په توګه کېدے شي .

د تاریخي عمل په مزاج او رفتار پوهېدونکي خلک دې حقیقت ته رسېدلي دي چې په ټولنه کښې بنیادي، کېفیتي او قوي بدلون د څو میاشتو او کلونو خبره نه وي بلکې داسې بدلون په پړاؤنو او ادوارو کښې تکمیلېږي او لویې مودې په ځان کښې رانغاړي .د لنډمهالو ګټو څارونکي اکثر د لویو شخصیتونو او تحریکونو په تاریخي حثیت متعین کولو کښې

تېروځي .باچاخان موږ ته څه راکړل؟ یو په یو که یې شمېرو نو ښايي دا سلسله کله هم اختتام ته ونه رسوو خو د خپلې آسانۍ دپاره د باچاخان حاصلات په څو ټکو کښې داسې ترتیب کولے شو :

باچاخان په سیاسي لحاظ یوې وروستو پاتې ټولنې او په جغرافیوي او قبیلوي لحاظ پر ملا ماتې ټولنې ته په لومړي ځل یو منظم قامي تحریک ورکړ .د پښتنو قامي سوال یې د هغوی په مخ کښې کښېښود چې هم یې په کښې د هغوی د قامي رنځ تشخیص کړے وو، هم یې قامي هدف ورته روښانه کړے وو او هم یې د هغوی قامي دښمن ورپه ګوته کړے وو .

باچاخان پښتني ټولنه د سامراج خلاف له یو منظم سیاست سره اشنا کړه .دې سیاست د پښتنو په ټولنیز مزاج، دانشورانه روایت او ادبیاتو کښې ترقي پسندانه عنصر او مزاحمتي رویه په ډېره پراخه پېمانه داخله کړه .د پښتون قامي تحریک دې خصوصیت هغه ټول عمر د واک دپاره د جنګېدونکو قامونو له تحریکونو مختلف ساتلے دے .

باچاخان د عدمِ تشدد په تګلاره د پښتنو خوره وره انرژي او په خپل منځي تضاداتو او شخړو کښې ضایع کېدونکے توان د یوې قامي ایجنډې د تر سره کولو موخې ته پر یوه نکته راغونډ کړ، له قبیلویت او سیمه ایز برخورد څخه یې ټولنه د قامیت ساحې ته داخله کړه .

ددې تر څنګ د باچاخان خدایي خدمتګار تحریک د پښتنو په هکله د موجودو استعماري مغالطو او غلط فهیمو د ماتولو یو انتهایي پیاوړے روایت په عملي توګه قایم کړ .دې تحریک دنیا ته یو نوے پښتون په ډېر نوي انداز وروپېژندو .

پښتانه یې د نوې دنیا د سیاست او واک تضاداتو ته ایکسپوز کړل، له خپلې تهذیبي او کلتوري سرچینې سره یې د دوی د بیا پېوندولو او پر دغه بنیاد یې د دوی د پرمختګ هغه ټول امکانات ورته په ګوته کړل چې د دوی په وطن، ټولنه او انساني وجود کښې په کار راوړل کېدے شول .

د ځان او جهان پېژندنې دا سفر، د خپلې خاورې او اختیار د سنبهالولو دا سفر او د جبر، جنګ، جمود او جهالت خلاف دا سفر نن یوه پېړۍ پس هم هغسې دوام لري، د انګرېز استعمار او د هغوی د ځاییناستي ریاست د ټول جبر او جارحیت باوجود دې تحریک ته دوام ځکه په برخه شو چې د یو لوے قام د ارمانونو امانتګر او د تاریخ په یوه ډېره کړاؤجنه دوره کښې د بې شمېره مبارزینو د

لـويـو سربښندونو، خواريو او در په دريو يو مقدس پېداوار دے .

د پېرنګي د ځايناستي رياست په پېچيده تـضـاداتو کښې د پښتنو قامي قضيه نيژدې اووه لسيـزې وچـلېـده، پښتـانـه قـامي سياست لري، څـنګـه دے او څـنګـه بايد چې وي؟ دا ځانله بحث دے خـو هـغـه د قامي سياست خلاء چې يو وخت د پښتنو په ټولنه کښې موجوده وه نن نه شته .ددې کـرېډيټ يوازې او يوازې باچاخان او د هغه خدايي خدمتګـارانـو ته ځي .دا هـغـه د لـيـکنې په پېل کښې شـوې د ډګر، لارې او ډسپلن خبره ده .ګران کـار دا وي چې يـو قـام دې تـه مجبور شي چې د قـامي مزل دپاره نوې لارې جوړې کړي خو دا کار نسبتـاً ډېـر اسـان دے چې پر جوړو لارو دې څوک څـنګـه مزل وکړي، په کوم وخت، کوم موسم او په کـومـه طريقه دې مزل وکړي .زه داسې فـکر کوم چې پښتـنـو ته اوس مزل ډېر ګران نه دے ځکه چې د لارو جـوړولـو او مـزل د پېلولو کومې سختې او کړاؤنـه وو هغه" پـه قـامـت د خپلو لوړو غرونو سيال "څـه د پـاسه درې لسيزې په زندان دننه په زولـنـو کښې تېـرکړل او د هـغــه قدآورو خدايي خـدمتګـارانـو پـه بې مثاله سربښندنو، قربانيو او خـواريو کور کور، کوڅې کوڅې او کلي کلي ته په ورتګ هـغـه سختۍ او کړاؤنه راروانو نسلونو ته اسانه کړل .

مـمـکـن دا پوښتنه چاته راولاړه شي چې مـزل څنګه د ځانمرګو بريدونو او بمي چاودونو په مـاحـول کښې اسـانه دے؟ دا مزل په دې اسانه دے چې فـکـر شتـه، تـحـريک شتـه، لار شته، په لار کښې رڼـا شتـه او په دې تکه توره تياره کښې په خپـلو وينو د ډيوو د بلولو روايت شته .يوه لحظه فرض کړئ که دا تحريک نه وي نو د يو منظم نوي استـعـمـاري رياست په نګراني کښې د رواني دې خـونړۍ پـروژې شـدت بـه څه وي او نتايج به يې څنګه وي؟

استـــاد عبـدالـمـالک فدا چې د بـابړې پر خونړۍ پېښه کوم مشهور نظم ليکلے دے، د هغه نـظم دا يو بند د نيوکالونيل سټېټ سره مخ په مخ زموږ د قام د مبارزې د هرې ورځې احاطه کوي:

يــو خـوا تـــه تـــوپې مـــاشيـــنونـــه
د حــکــومـــت واړه پـــوځــونـــه
بـــل خـوا تـــه قـــام خـــالـي لاسونـــه
مـقـــابـلې تـــه مې کـتـل حېـــرانېدمـــه
مـــرګيـــــه !مــــه راځــــه، درځــمــــه

د حـکـومت د پوځونو او د توپو ماشينونو مقابله د هـر چـا د وس کـار نه دے، د باچاخان تحريک پوره يـوه پېړۍ پـه خـالـي لاس ددې مقابله وکړه، دا په رښتيا د حېرانۍ مقابله ده .

د پـاکستـان لـه جوړېدو سره سم د پښتنو خـلاف خونړۍ رياستي پروژه په بېلابېلو نومونو

او ستمایلونو تر ننه دوام لري، قیوم خاني، ایوب خاني، د بوټو افسر شاهي او بیا ضیاء الحق چې تر اوس مهالــه ژوندے او ګرندے دے، ددې ټولو مقابله د حېرانتیا مقابله نه ده؟ په نوي استعماري ریاست کښې د نویو نویو پېچلتیاوو او تضاداتو له کبله به په قامي سیاست کښې څه کنفیوژن هم وي، د پارلیماني سیاست له کبله به راپکښې یوه مفادپرستــه ډلــه هم قوي شوې وي، د اوږده محکومیت او محرومیت له کبله به ډېر خلک سترې شوي او بدزړي شوي هم وي، خامیانې شتــه، تېروتنې شوي، تېروتنې کېږي، ګیلې شته او ګیلې به کېږي خو آخر د یوې انساني ټولنې او د یو محکوم قام په سیاست کښې دا هر څه غېرفطري خو نــه دي، دا ټول څه د یو سیاسي معمول په توګه کتل پکار دي، سیاسي معمول دا هم دے چې مبارزه بــه پــه یو وخت هم د بهر سره روانه وي او هم به پــه تحریک کښې دننه روانه وي، دا بایــد یو فورم وګڼو، دا څه نااشنا او عجیبه کار نــه دے، نااشنا او عجیبه موقف دا دے چې د یوې پېړۍ د سیاست جاج دې څوک د پنځو کلونو د صوبایي حکومت د څینو بدنظمیو پر بنیاد اخیستل شروع کړي او هغه هم داسې حکومت چې په ضد یې د قیوم خانۍ بدترین شکل طالبان له څانمرګو سره سنبهال ولاړ وي .د اې این پي د حکومت پر مهال بــه ښایي ډېرو خلکو پــه پښتونخوا کښې دفتري او ترقیاتي کارونه څارل خو ما د پوځونو، توپونو او ماشینونو په مخ کښې په خالي لاس د ولاړو کارکنانو مېړانه او حوصله څارله، " مقابلې ته مې کتل حېرانېدمه "!دا یوه ډېره ستره مقابله وه، ددې ستري مقابلې تاریخي حثیت ته باید څوک په دې ټیټو خبرو زیان ونه رسوي چې پلاني دلته کرپشن وکړ او پلاني هلته ماتــه نوکري رانه کړه .زه دا د کرپشن او نوکرۍ معاملــه یو سیاسي معمول ګڼم، په دې هکله د نورې پوهېدا دپاره د باچاخان په کتاب" زما ژوند او جــدوجهــد "کښې د" زمــوږ وزیــران او پېرنګیان "سرلیک راسره مرسته کولے شي .
د یو نیوکالونیل سټېټ په خصوصیاتو د پوهېدلو پس یو څوک دې حقیقت ته متوجه کېداے شي چې بې شمېره داسې حربې او سازشونه شته چې موږ په خپلو کښې ډېر په آسانه ماتولے، یو پر بل شکمن کولے او له شریک سفره مو راګرځولے شي .پښتنو ته به د خپلې مقابلې پر مهال په ذهن کښې یوازې د دې نیوکالونیل سټېټ خاکه ساتل وي، کــه پام مو دلې دورې شي نو سټېټ په آسانه زموږ په منځ کښې رانــوتے شي، نیوکالونیلزم یوازې د څانمرګي او پوځي په بڼه د قامونو وجود ته نه داخلېږي بلکې د ټوکو ټکالو، نصحیتونو،

تبلیغونو، میډیا، نصاب، این جي اوز او سول
سوسایټۍ په بڼه د قامونو وجود لکه د چینجو
خوري .په اوس دور کښې زیات فوکس هم پر دې
پکار دے، نېغ په نېغه یرغل اوس دومره موثر نه
وي، څومره چې دا په قامي وجود کښې د چینجو
په بڼه راننوتونکي یرغلونه خطرناک وي، زه
حېرانېږم چې موږ ولې دې خطراتو ته زیات پام نه
کوو او د مقابلې دپاره یې تیارے نه نیسو؟ له
حکومت سره یوازې پوځونه، توپې او ماشینونه
نه دي بلکې ژبه هم ورسره شته، اخبارونه او ټیلي
ویژنونه هم ورسره شته، درسي نصاب او استادان
هم لري، منبرونه او محرابونه ورسره په یو ټیننګ
الاینس کښې شریک هم دي، یوه فعاله سول
ملټري سوسایټي هم لري، این جي اوز او نور
خیراتي تنظیمونه هم کار ورله کوي، پر سوشل
میډیا بې حسابه اکاؤنټونه هم چلوي، دانشوران او
مصنفین یې هم شته او خپل مهار کړي سیاستونه
هم لري .آیا موږ کله پر دې سوچ کړے دے چې
باچاخان ولې د قامي آزادۍ سفر د قامي
شوونځیو له پرانیستلو پېل کړ او ولې یې په
خپله ژبه کښې قامي اخبار جاري کړ؟ آیا موږ پر
دې څه تحقیق کړے چې انګرېزانو ولې د باچاخان
غیرمسلح پښتون تر مسلح پښتون زیات
خطرناک ګڼلو؟ کله چې مو ددې دوو سوالونو
ځواب پیدا کړ او ددې په رڼا کښې مو خپله
پالیسي له نوي سره ترتیب کړه نو بیا نور دوه
سوالونه هم ځواب غواړي یو دا چې باچاخان ته په
یوه عامه جلسه کښې عامو پښتنو د فخرِافغان
لقب ولې ورکړ؟ دویم دا چې په خپل پلارني کلي
کښې خپل کور، خپله زمکه او خپله هدیره
لرونکے باچاخان په جلال آباد کښې ولې ښخ دے؟
زه دلته ددې سوالونو د ځواب وئیلو اړتیا نه
محسوسوم، صرف خپله هغه اولنۍ خبره بیا
تکراروم چې باچاخان یو ډګر، یوه لار او یو ډسپلن
دے، باچاخان چې چرته هم تللے هلته یې د مبارزې
دپاره یو ډګر جوړ کړے دے، باچاخان چې پر کومو
کلیو او کوڅو ګرځېدلے هلته یې صرف د پښو
پلونه نه بلکې لارې یې پرېښې دي، باچاخان چې
څه هم کړي او وئیلي دي هغه یو پراخ ډسپلن یا
سبجکټ دے او همداسې باچاخان چې چرته ښخ
دے دا هم د یو ډګر، یوې لارې او یو ډسپلن سوال
دے .د باچاخان قبر ددې پوځونو، توپونو او
ماشینونو لرونکي قوت سره نن هم تر هر څه ښه
مقابله کوي،" مقابلې ته مې کتل حېرانېدمه "!

☆☆☆